د افغانستان اسلامي امارت

د ارشـــــاد، حـــــج او اوقافـــــو وزارت

د مساجدو او حُسَينيو د ارشاد او انسجام لوی رياست

دجُمعې ورځې د خطابت موضوع او ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد
دمرکز او ولایاتو ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

۲/ جمادی الثاني/۱۴۴۸ هـ، ق مطابق ۲۲ /عقرب /۱۴۰۵هـ، ش

د کورنۍ په ځانګړې ډول د ماشومانو سالمې تربيې ته جدي پاملرنه پکار ده.

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الذي أنعم علينا بنعمة الأولاد، وأمرنا أن نبصِّرهم طريق السعادة والرشاد، والصلاة والسلام على سيدنا محمد خير العباد، وعلى آله وصحبه الى يوم التناد، أما بعد: فأعوذ بالله من الشيطان الرجيم .بسم الله الرحمن الرحيم:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ).(۱)

درنو مسلمانانو ورونو!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.

زمونږ د نننۍ ورځ د تقرير او بيان موضوع دهرې کورنۍ لپاره ډېره مهمه او د هر مور او پلار لپاره د فکر وړ موضوع ده، هغه دا چې(کورنۍ، په ځانګړې ډول د ماشومانو سالمې تربيې ته جدي پاملرنه پکار ده).

کورنۍ د ټولنې اساس دی، که کورنۍ اصلاح وي، ټولنه به هم اصلاح وي، او که کورنۍ د بې‌لارۍ، اخلاقي فساد او تربيوي غفلت ښکار وي، نو ټولنه به هم د بيلابيلو مرضونو، آفتونو، مشکلاتو او انحلال سره مخ وي.

د ټولنې يوه سـتره برخه ماشومان دي، هغه ماشومان چې د الله تعالی ستر نعمت او د مور او پلار په اوږو دروند امانت دی. د ماشـومانو سـالمه تربيه يوازې د خوراک، څښـاک، جامو، کور او ښـوونځي برابرول نه دي؛ بلکې د هغوی د عقيدې، عبادت، اخلاقو، کردار، علم او ټولنيز چلند اصـلاح کول هم د مور او پلار مسـؤليت دی. د نن سـبا ماشومان په داسې شرائطو کې را لوئيږي چې د ماشومانو چاپيريال د هر ډول بې دينيو، بد اخلاقيو او بې لارې توب څخه ډک دی او د خير او صلاح لارې په کې ډيرې کمې دي. بناءً د ماشومانو سالمه تربيه او د هغوی د خطرونو پر وړاندې ساتنه پر پلرونو او ميندو باندې شرعي فريضه ده. که هغوی په دې دنده کې کوتاهي وکړي، نو په حقيقت کې پر خپلو ځانونو به يې ظلم کړی وي او خپلو مسئوليتونو کې به يې ناغيږي کړي وي او خپل ماشومان به يې د هلاکت کندې ته اچولي وي. د کورنۍ، په ځانګړې توګه د ماشومانو سالمه تربيه د مور او پلار ، نيکه ، د مشر ورور او د مکتب او مدرسې استادانو مسئوليت دی.

۱- التحريم :(٦)

کورنۍ او خپل ماشومان د هلاکت له اسبابو څخه ساتل حتمي الهي حکم دی. الله تعالی فرمايي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ).(۲)

ترجمه:ای مؤمنانو!خپل ځانونه او کورنۍ مو له هغه اور نه وژغورئ چې د سونګ مواد به يې انسانان او ډبرې وي سخت زړې او قوي هيکله ملايکې

به پرې ولاړې وي.د الله د امر نه به هيڅ مخالفت نه کوي او يوازې هغه څه به کوی چې امر يې ورته وشي.

عبدالله بن عباس رضي الله عنهما د دې آيت د تفسير په اړه فرمايي:(قُوا أَنْفُسَكُمْ) بالانتهاء عما نهاكم الله عنه والعمل بطاعته. (وَأَهْلِيكُمْ) يعني مروهم بالخير وانهوهم عن الشر وعلموهم وأدبوهم تقوهم بذلك).(۳)

ژباړه: د «خپل ځانونه وساتئ» معنا دا ده چې له هغو کارونو څخه ځانونه وساتئ چې الله تعالی ترې منع کړي ياست او د هغه اطاعت وکړئ. او د «خپلې کورنۍ وساتئ» معنا دا ده چې هغوی ته د نېکۍ امر وکړئ، له بدیو څخه يې منع کړئ، هغوی ته ښوونه وکړئ او ښه ادب ورکړئ؛ په دې توګه به مو له اور څخه ساتلي وي.

حضرت علي کرَّم الله وجهه ددې آيت (قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا): په تفسير کې وايې: «عَلِّمُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمُ الْخَيْرَ».(٤)

ژباړه: خپلو ځانونو ته او خپلې کورنۍ ته خير ور وښایاست.

امام مقاتل رحمه الله ددې آيت په تفسير کې وايي:(أن يؤدب المسلم نفسه وأهله فيأمرهم بالخير وينهاهم عن الشر).(٥)

ژباړه: (ځان او اهل د اور څخه ساتل دادي چې) آدب ورکړي خپل نفس ته او خپلې کورنۍ او امر ورته وکړي د خير او منع يې کړي له شر څخه.

د دې تفسيرونو پر بنسټ، که څوک خپلې کورنۍ او ماشومانو ته د نېکۍ امر نه کوي، له بدیو څخه يې نه منع کوي، شرعي لارښوونې نه ورښيي او ښه روزنه او ادب نه ورزده کوي، نو په حقيقت کې خپله کورنۍ او خپل ماشومان يې د جهنم له خطر سره مخ کړل.

د ماشومانو او اولادونو سالمه تربيه د اسلام د مهمو اهدافو څخه ده، ترڅو د نن ورځې ماشوم د صبا ورځې د ټولنې ګټور او خير خواه شخصيت وګرځي، بلکې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د بعثت له مهمو موخو څخه يوه موخه د انسانانو تزکيه او سالمه تربيه وه. الله تعالی فرمايي:(لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولاً مِنْ أَنْفُسِهِمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلالٍ مُبِينٍ).(٦)

ترجمه: دا کره خبره ده چې الله پاک له مؤمنانو سره ډيره لويه ښيګڼه کړې ده چې په هغوی کې يې د هغوی يو تن رسول ور ولېږه چې د هغه ايتونه پرې لولي، پاکوي يې، کتاب او حکمت ورښايي که څه هم دوی له رسول څخه وړاندې ښکاره بې لارې وو.

---

۲ -التحريم:(٦)

۳ - تفسير الخازن ـ موافق للمطبوع (۷ /۱۲۱)

٤ - تفسير عبد الرزاق (۳ /۳۲٤)

٥ - تفسير الرازي: مفاتيح الغيب ـ موافق للمطبوع (۳۰ /٤۱)

٦-آل عمران:(١٦٤)

تزکیه د تربیې او اصلاح په معنا ده. د انسان د روزنې تر ټولو ستره او لوړه موخه دا ده چې د نړۍ د رب الله تعالی بندګي په سمه توګه ترسره کړي، عبادت یوازې هغه ته ځانګړی کړي او له شرک څخه ځان وساتي.

حافظ ابن کثیر رحمه الله د«وَيُزَكِّيهِمْ» په تفسیرکې فرمایي:ای يُطَهِّرُهُمْ مِنْ رَذَائِلِ الْأَخْلَاقِ وَدَنَسِ النُّفُوسِ وَأَفْعَالِ الْجَاهِلِيَّةِ».(۷)

ژباړه: د تزکیې معنا دا ده چې هغوی د ناوړه اخلاقو، د نفس له چټلیو او د جاهلیت له کړنو څخه پاک کړي.

له همدې امله علماوو د ماشومانو سالم تربیت ته ځانګړې پاملرنه کړې ده. هغوی په لیکنو او کتابونو کې د ماشومانو د سالمې تربیې اهمیت، لارې چارې او پایلې په پراخه توګه بیان کړي دي.

د اسلام مبارک دین د کورنۍ، او په ځانګړې توګه د ماشومانو سالم تربیت د مور او پلار مسئولیت ګرځولی دی.

په حدیث شریف کې راځي چې د کور سړی د کورنۍ په اړه مسئول دی او دکور ښځه هم د کور او د کور د ماشومانو په اړه مسئوله ده.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:« كُلُّكُمْ رَاعٍ فَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ فَالْأَمِيرُ الَّذِي عَلَى النَّاسِ رَاعٍ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْهُمْ وَالرَّجُلُ رَاعٍ عَلَى أَهْلِ بَيْتِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْهُمْ وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ عَلَى بَيْتِ بَعْلِهَا وَوَلَدِهِ وَهِيَ مَسْئُولَةٌ عَنْهُمْ».(۸)

ژباړه: د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی، هغه وایې، چې بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: له تاسو څخه هر یو سرپرست یاست او (هر یو له ستاسې څخه) د خپل رعیت په اړه به ورځخه پوښتنه کیږي.نو هغه امیرچې د خلکو سرپرست دی،او دهغوی په اړه به ورځخه پوښتنه کیږي، اونارینه د خپلې کورنۍ سرپرست دی او د هغوی په اړه به ورځخه پوښتنه کیږي، ښځه د خپل مېړه د کور او اولادونو سرپرسته ده او د هغوی په اړه به ور څخه پوښتنه کیږي.
نو اې پلاره! او اې موریې واورئ! چې تاسو دواړه د الله تعالی په وړاندې مسئول یاست. الله تعالی به له تاسو څخه پوښتنه کوي چې آیا خپل ماشومان او اولادونه مو ښه روزلي وو او که نه؟ آیا هغوی ته مو د دین او اخلاقو لارښوونه کړې وه؟ آیا د هغوی په اړه مو خپل مسؤلیتونه په سمه توګه ادا کړي وو؟

د کورنۍ، په ځانګړې توکه د ماشومانو په سالم تربیت کې د غفلت په اړه سخت وعید راغلی دی. معقل بن یسار رضي الله عنه روایت کوي چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل، چې ویې فرمایل:«مَا مِنْ عَبْدٍ اسْتَرْعَاهُ اللَّهُ رَعِيَّةً، فَلَمْ يَحُطْهَا بِنَصِيحَةٍ، إِلَّا لَمْ يَجِدْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ».(۹)
ژباړه: هېڅ داسې بنده نشته چې الله تعالی هغه ته د یوه رعیت مسئولیت (سرپرستي) ور په غاړه کړي وي او هغه شخص د هغه رعیت حفاظت په نصیحت سره ونه کړي ، مګر دا چې د جنت بوی به هم ونه مومي.
ستاسو تر ټولو لومړنی رعیت، تر ټولو مهم رعیت او تر ټولو د پاملرنې وړ رعیت ستاسو خپل کورنۍ او ماشومان او اولادونه دي. نو که چیرې تاسې د هغوی حفاظت په نصیحت او تربیت سره ونه کړی، نو د دغه حدیث سخت وعید به تاسو ته هم متوجه وي.

۷- تفسیر ابن کثیر / دار الفکر (۱/ ۲٤٤)
۸ - صحیح البخاري ت (٦/ ٤١٤)، صحیح مسلم (٦/ ۷)
۹- صحیح البخاري ت (۱۸/ ٦٤)

د کورنۍ په ځانګړې توګه د ماشومانو او کوچنیانو د حقوقو ضایع کول لویه ګناه ده. په حدیث شریف کې راځي. عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ اللهَ سَائِلٌ كُلَّ رَاعٍ عَمَّا اسْتَرْعَاهُ، أَحَفِظَ ذَلِكَ أَمْ ضَيَّعَ؟ حَتَّى يُسْأَلَ الرَّجُلُ عَلَى أَهْلِ بَيْتِهِ».(١٠)
ژباړه: د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:بېشکه الله تعالی به له هر مسئول شخص(سرپرست) څخه د هغه څه په اړه پوښتنه کوي چې هغوی مسئولیت (سرپرستي) ورته ورسپارل شوې ده؛ چې آیا د هغه (رعیت) حفاظت یې کړی دی او که هغه یې ضایع کړي دی؟ آن تر دې پورې، چې له سړي څخه به د خپلې کورنۍ د مسئولیت (سرپرستۍ) په باره کې هم پوښتنه وشي.

په دغو احادیثو کې د کورنۍ او د ماشومانو حفاظت څخه یواځې هغوی ته خوراک، څښاک او پوشاک مراد نه دی ؛ بلکې هغوی د ناوړه اخلاقو ، بدو عاداتو او د جهنم له اور څخه حفاظت مراد دی. ځان وساتئ له دې څخه چې په قصدي ډول د خپلو ماشومانو او اولادونو په حقوقو کې کوتاهي وکړئ او هغوی ضایع کړئ. هغوی ستاسې تر سرپرستۍ لاندې دي، پر تاسې د تربیت روزنې حق لري؛ نو د هغوی د حقوقو په ادا کولو کې غفلت مه کوئ. علامه مناوي رحمه الله د دې حدیث په تشریح کې لیکي:(أحفظهم أم ضيعهم فيعامل من قام بحق ما استرعاه عليه بفضله ويعامل من أهمله بعدله وما يعفو الله أكثر... واستدل به على أن المكلف يؤاخذ بالتقصير في أمر من في حكمه).(١١)

ژباړه: یعنې الله تعالی به له هغه څخه پوښتنه کوي چې آیا د خپلې کورنۍ او ماشومانو ساتنه یې کړې ده او که هغه یې ضایع کړې دي؟ نو له هغه چا سره به د خپل فضل او مهربانۍ له مخې چلند وکړي چې خپل ورسپارل شوی مسؤلیت یې اداء کړی وي، او له هغه چا سره به د خپل عدل له مخې چلند وکړي، چې په دې مسؤلیت کې یې غفلت کړی وي. په دې حدیث سره استدلال شوی دی ددې خبرې لپاره چې هر مکلف به د هغه چا په وجه نیول کیږي چې مکلف تقصیر کړي وي په حق د هغه چا کې چې دده د حکم لاندې دي.

ماشومان او اولادونه د مور او پلار په غیږو کې الهي امانت دی او په کار ده چې ددې امانت هغسې ساتنه او تربیت وشي څرنګه چې الله تعالی یې غواړي.امام غزالي رحمه الله فرمایي:« والصبيان أَمَانَةٌ عِنْدَ وَالِدَيْهِ، وَقَلْبُهُ الطَّاهِرُ جَوْهَرَةٌ نَفِيسَةٌ سَاذَجَةٌ خَالِيَةٌ عَنْ كُلِّ نَقْشٍ وَصُورَةٍ، وَهُوَ قَابِلٌ لِكُلِّ مَا نُقِشَ، وَمَائِلٌ إِلَى كُلِّ مَا يُمَالُ بِهِ إِلَيْهِ؛ فَإِنْ عُوِّدَ الْخَيْرَ وَعُلِّمَهُ نَشَأَ عَلَيْهِ وَسَعِدَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ أَبَوَاهُ وَكُلُّ مُعَلِّمٍ لَهُ وَمُؤَدِّبٍ، وَإِنْ عُوِّدَ الشَّرَّ وَأُهْمِلَ إِهْمَالَ الْبَهَائِمِ شَقِيَ وَهَلَكَ، وَكَانَ الْوِزْرُ فِي رَقَبَةِ الْقَيِّمِ عَلَيْهِ وَالْوَالِي لَهُ».(١٢)
ژباړه: ماشومان د مور او پلار په وړاندې یو امانت دی. د هغه پاک زړه یوه قیمتي او نازکه ملغلره ده، چې لا تر اوسه په کوم نقش او انځور نه ده کښل شوې. هغه د هر ډول نقش منلو وړتیا لري او هر لوري ته چې یې واړوي، هماغه لوري ته مایلېږي. که ماشوم د خیر او نېکۍ عادت واخلي او خیر ورزده کړل شي، نو په هماغه لاره به لوی شي او په دنیا او آخرت کې به نېکمرغه وي، او مور او پلار او ټول ښوونکي او روزونکي به یې په اجر کې شریک وي. خو که ماشوم د شر او بدۍ عادت واخلي او د څارویو په څېر بې پروا پرېښودل شي، نو بدمرغه او تباه به شي، او ګناه به یې د هغه چا پر غاړه وي چې د ده مسؤولیت یې پر غاړه اخیستی وي.

١٠- السنن الكبرى للنسائي (٨ /٢٦٧)
١١ - فيض القدير (٢ /٢٣٧)
١٢ - إحياء علوم الدين (٣/ ٧٢)

سلف صالحين د خپلو ماشومانو او اولادونو د سالمې تربيې په اړه ډير زيات حريص ؤ او هغوی به د خپلو ماشومانو او اولادونو د سالم تربيت لپاره د تربيت متخصصين او په تربيه کې با تجربه استادان نيول .

د ماشومانو سالمه تربيه د بچو په اصلاح کې مهم رول لري؛ ځکه بچې لومړی په اسلامي فطرت پيدا کيږي بيا هغه وخت شروع کيږي چې ماشومان په همدغه اسلامي فطرت باندې وروزل شي او په اسلامي فطرت پاتې شي او دا د مور او پلار مسئوليت دی، چې خپل ماشومان په اسلامي فطرت باندې تربيه کړي. په حديث شريف کې راځي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:« كُلُّ مَوْلُودٍ يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ أَوْ يُنَصِّرَانِهِ أَوْ يُمَجِّسَانِهِ ».(١٣)

ژباړه: هر ماشوم په اسلامی فطرت باندې پيدا کيږي ، بيا دا مور او پلار دي چې هغه يهودي کوي او يا يې نصراني کوي او يا يې مجوسي کوي.

ماشوم د تنکی لختې په څير ده ، هر لورې ته چې يې کړوې په هغه لورې کړيږي. همدې خبره ته امام غزالي اشاره کړی ده.

د کورنۍ، په ځانګړې توګه د ماشومانو د سالمې تربيې ځينې بيلګې:

د اسلام مبارک دين د کورنۍ او ماشومانو د سالم تربيت لپاره يو روښانه او بشپړ منهج وړاندې کړی دی؛ چې په کې د ماشومانو روحاني، جسمي او عقلي تربيت ته ځانګړې پاملرنه شوې ده.

د اسلام له نظره د کورنۍ او ماشومانو اولادونو روزنه دا ټول اړخونه رانغاړي:

- ماشومانو ته د ديني ارزښتونو ورزده کول.
- هغوی په عالي او غوره اخلاقو ، عادات او خويونو روزل .
- د عبادتونو او اطاعتونو پر پابندۍ د هغوی عادت کول.
- پر ځان د باور پياوړتيا روزل، تر څو د ژوند له ستونزو او ننګونو سره د مقابلې وړتيا ولري.

د کورنۍ او ماشومانو د سالمې تربيې ځينې مهمې بيلګې په لاندې ډول دي:

١- ماشوم په کوچنيوالي کې د الله تعالى پر وحدانيت او دتوحيد په عقيده تربيه کول او روزل.

د اولادونو د سالمې روزنې لومړنۍ اساس دا دی چې له کوچنيوالي څخه د هغوی په زړونو کې د الله تعالى وحدت او يووالی او ايمان ځای پر ځای شي. تر هر څه لومړی خپلو ماشومانو ته بايد دا ور وښودل شي، چې زمونږ او دټولو کائناتو خالق او رب الله جل جلاله دی ، الله جل جلاله په ذات او صفاتو کې ساری نلري، الله جل جلاله لکه څرنګه چې زمونږ خالق دی زمونږ رازق دی او په هر څه قادر دی. هغه سيال او شريک نلري.د ماشومانو په تربيت کې تر ټولو لومړيتوب عقيدې او ايمان ته ورکول پکار دي، لکه څرنګه چې لقمان حکيم خپل زوی ته داسې نصيحت کړی ؤ:(يَا بُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللَّهِ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ).(١٤)

همدارنګه رسول الله ﷺ هم لومړی د صحابه کرامو دعقيدې اصلاح ورکړی وه . رسول الله صلى الله عليه وسلم عبدالله بن عباس رضي الله عنهما ته د ايمان قاعده ور وښودله او ورته يې وفرمايل:«يَاغُلَامُ إِنِّي أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ : احفَظِ اللهَ يحفَظكَ، احفَظِ اللهَ تَجِدهُ تُجَاهَكَ، إِذَا سَأَلتَ فَاسأَلِ اللهَ، وَإِذَا استَعَنتَ فَاستَعِن بِاللهِ . وَاعلَم أَنَّ الأُمَّةَ لَوِاجتَمَعَت على أن ينفَعُوكَ بِشَيءٍ لَم ينفَعُوكَ إِلاَّ بِشَيءٍ قَد كَتَبَهُ اللهُ لَكَ، وَ لَوِاجتَمَعُوا على أن يضُرُّوكَ بِشَيءٍ لَم يضُروكَ إِلاَّ بِشَيءٍ قَد كَتَبَهُ اللهُ عَلَيكَ، رُفِعَتِ الأَقلَامُ، وَجَفَّتِ الصُّحفُ» .[١٥]

---

[١٣]- صحيح البخاري ت (٣/ ٣٧٩)

[١٤]- لقمان:(١٣)

[١٥] - سنن الترمذي (٤/ ٦٦٧)

ژباړه: ای بچیه ! زه درته څو خبرې درښایم (هغه یاد ولره): الله تعالی د خپل ځان ساتونکی وګنه ، ترڅو تا وساتي، الله تعالی یادوه، کله چې د ستونزې سره مخ شې ، نو الله تعالی به تل له ځان سره وموميې(په نصرت کې). کله چې څه غواړې د الله نه یې غواړه! او کله چې دې مرسته غوښتله ، نو د الله نه یې غواړه! او پوه شه که چېرې ټول امت راجمع شي ، ترڅو تا ته څه ګټه ورسوي ګټه نشي درته رسولی؛ مګر هغه څه چې الله په (ازل) کې درته لیکلي وي او که ټول امت جمع شي چې تا ته څه ضرر او تاوان ورسوي تا ته ضرر او تاوان نشي رسولی، مګر هغه چې الله تا ته په (ازل) کې لیکلي وي، قلمونه پورته شوي او صحیفې وچې شوې دي (یعنی څه چې مقدر دي هغه په لوح محفوظ کې ثبت او لیکلي دي).

همدارنګه په ماشوم کې د دې احساس پیدا کول پکار دي چې الله تعالی د انسان له هر عمل څخه خبر دی او هېڅ شی ترې پټ نه پاتې کېږي. لقمان حکیم صاحب خپل زوی ته په نصیحت کې وفرمایل:(يَا بُنَيَّ إِنَّهَا إِنْ تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ فَتَكُنْ فِي صَخْرَةٍ أَوْ فِي السَّمَاوَاتِ أَوْ فِي الْأَرْضِ يَأْتِ بِهَا اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ).(١٦)

ترجمه: ای زما بچوړیه!که د اوري دانې په اندازه کوچنې عمل د ډیرې لوی ډبرې په مینځ یا د اسمانونو او یا د ځمکې په کوم لری کونج کې وي الله به هغه راوباسي.بې له شکه چې الله پاک ډیر ژورلیدونکې او له هر څه ښه خبر دی.

۲- ماشومانو ته د لمانځه ورزده کول او په تدریجي ډول هغوی دعبادتونو په اداء کولو عادت کول.

لمونځ د دین ستنه ده او د ماشومانو د روحي او عملي نظم د تربیې لپاره تر ټولو مهم اصل دی. د ماشومانو د سالمې تربیې لومړنی بښوونځی کورنی ده. ماشوم د خپل ژوند په لومړیو کلونو کې تر ټولو زیات له مور او پلار څخه زده کړه کوي. د مور او پلار خبرې، کړنې، عادتونه او اخلاق د ماشوم په شخصیت ژور اغېز کوي. که چیرې په کور کې لمونځ کېږي، ماشوم هم له لمانځه سره مینه پیدا کوي؛ که په کور کې قرآن کریم لوستل کېږي، ماشوم هم د قرآن کریم د تلاوت عادت خپلوي؛ که په کور کې رښتینولي، امانتداري او ښه اخلاق وي، ماشوم هم د همدې اخلاقو په چاپېریال کې لویېږي. خو که مور او پلار خپله دروغ وایي، غیبت کوي، یو بل ته بد رد وایي، لمونځ نه کوي او د حرامو پروا نه ساتي، بیا له ماشومانو څخه د ښو اخلاقو تمه کول ستونزمن کار دی. په بدني عباداتو کې لمونځ تر بل هر عبادت څخه لومړنی ځای لري او ماشومانو ته باید په تدریجي ډول لمونځ کول ور وښودل شي.وګورئ! لقمان حکیم خپل زوی ته د تربیې په پیل کې د عقیدې د اصلاح څخه وروسته د لمانځه توصیه کوي. الله تعالی فرمایي:(يَا بُنَيَّ أَقِمِ الصَّلَاةَ وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَاصْبِرْ عَلَى مَا أَصَابَكَ إِنَّ ذَلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ). [لقمان: ١٧]
ترجمه: ای زما زوی کیه!لمونځ ودره وه نیکیو ته بلنه وکړه او له بدیو نه منع کوه او په دې لار کې چې څه در رسیدل هغه زغمه. بې له شکه چې دا خورا مهم کارونه دي.
همدا راز رسول الله ﷺ د ماشومانو د ودې او عمر له پراوونو سره سم د لمانځه د روزنې لپاره یو روښانه منهج ټاکلی دی. په حدیث شریف کې راځي، رسول الله ﷺ فرمایلي دي:«مُرُوا أَوْلَادَكُمْ بِالصَّلَاةِ وَهُمْ أَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِينَ، وَاضْرِبُوهُمْ عَلَيْهَا وَهُمْ أَبْنَاءُ عَشْرٍ، وَفَرِّقُوا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ».(١٧)

١٦- لقمان:(١٦)

١٧ - سنن أبی داود-ن (١/ ١٨٥)، سنن الدارقطني (١/ ٢٣٠)، مسند أحمد ت شاكر (٦/ ٢٤٣)

ژباړه: خپلو اولادونو (ماشومانو) ته په اووه کلنۍ کې د لمانځه امر وکړئ، او په لس کلنۍ کې يې د لمانځه د نه کولو له امله (د ټاکلو شرعي ضوابطو او د زيان نه رسولو په رعايت سره) تأديب کړئ، او د خوب ځايونه يې سره جلا کړئ.

دا نبوي حديث مور او پلار ته دړې کاله وخت ورکوي، څو د ماشومانو په زړونو کې د لمانځه مينه پيدا کړي، په نرمۍ او هڅونې سره يې د لمانځه پابند کړي او هغوی د عبادت له روح سره بلد کړي. همدارنګه بايد ماشومان د نورو عبادتونو لکه روژې، ورځنيو اذکارو او نورو نېکو اعمالو سره هم په تدريجي ډول عادت شي، څو عبادتونه ورته په زړه پورې او خوږ شي.

۳-د ماشومانو په ښو اخلاقو او عالي عاداتو تربيه کول.

ماشومان بايد په ښو اخلاقو ، تواضع، عاجزۍ او اعتدال تربيه او وروزل شي.رسول الله ﷺ د خپل بعثت له موخو څخه يوه موخه د ښو اخلاقو بشپړول ښودلي دي.په يوه روايت کې راغلي دي. رسول الله ﷺ فرمايي:«إِنَّمَا بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ مَكَارِمَ الْأَخْلَاقِ».(۱۸)

ژباړه: زه د دې لپاره رالېږل شوی يم چې غوره اخلاق بشپړ کړم.

الله تعالی د خپل پيغمبر ﷺ د اخلاقو په اړه فرمايي:(وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ).(۱۹)

ترجمه: او ته د ډير لوی او اوچت خوی څښتن يي.

حضرت لقمان حکيم صاحب خپل زوی ته د ښو اخلاقو د خپلولو په اړه داسې نصيحت وکړ:(وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ * وَاقْصِدْ فِي مَشْيِكَ وَاغْضُضْ مِنْ صَوْتِكَ).(۲۰)

ترجمه: له خلکو نه مخ مه کړه وه،او خيالولۍ سره په ځمکه مه ځه.بې له شکه چې الله پاک هيڅ لويې کوونکې،خوښې ښکاره کوونکې نه خوښوي. په خپل تګ کې مينځنې حال غوره او خپل غږ تيټ کړه

اولادونه په کورنۍ کې داسې عملي بېلګې ته اړتيا لري چې د ربښتينولۍ، امانتدارۍ، احسان او صبر اخلاق په کې څرګند وي. مور او پلار بايد خپل اولادونه د ورځني ژوند په آدابو هم وروزي. د بېلګې په توګه، رسول الله ﷺ يو ماشوم ته د ډوډۍ خوړلو آداب ورزده کړل او ورته يې وفرمايل:«يَا غُلَامُ، سَمِّ اللَّهَ، وَكُلْ بِيَمِينِكَ، وَكُلْ مِمَّا يَلِيكَ».(۲۱)

ژباړه: اې هلکه! د الله تعالی نوم واخله، په خپل ښي لاس خوراک وکړه او له خپلې مخې څخه خوراک کوه.

د ماشومانو د تربيې تر ټولو غوره عملي بېلګه د رسول الله ﷺ حلم او زغم دی. حضرت انس بن مالک رضي الله عنه فرمايي:«خَدَمْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشْرَ سِنِينَ فَمَا قَالَ لِي أُفٍّ قَطُّ، وَمَا قَالَ لِشَيْءٍ صَنَعْتُهُ لِمَ صَنَعْتَهُ، وَلَا لِشَيْءٍ تَرَكْتُهُ لِمَ تَرَكْتَهُ».(۲۲)

ژباړه: ما لس کاله د رسول الله ﷺ خدمت کړی دی، خو هغه هېڅکله ماته «اف» هم نه دي ويلي؛ او نه يې د کوم کار په اړه چې ما کړی و، راته ويلي دي چې ولې دې وکړ؟ او نه يې د کوم کار په اړه چې ما نه و کړی، راته ويلي دي چې ولې دې ونه کړ؟

---

۱۸ - السنن الكبرى للبيهقي (۱۰/ ۳۲۳)، مسند البزار = البحر الزخار (۱۵/ ۳٦٤)

۱۹ - القلم:(۴)

۲۰- لقمان:(۱۸-۱۹)

۲۱ - سنن ابن ماجه (۲/ ۱۰۸۷)، سنن أبي داود ت الأرنؤوط (٥/ ٥٩٧)

۲۲ - سنن الترمذي ت شاكر (٤ /٣٦٨)

دا حديث مورِ ته د زغم، حوصلې او نرم چلند ستر درس راکوي.

۴- ماشومان د علم زده کړې ته، په ځانګړې توګه د قرآن کریم زده کړې ته هڅول اړین کار دی.

د ماشومانو سالمه تربیه یوازې په عباداتو او اخلاقو پورې محدوده نه ده، بلکې د دیني او ګټورې دنیوي زده کړې برابرول هم د هغوی له مهمو حقونو څخه دي. مور ، پلار او معلم باید ماشوم ته د علم د زده کړې اهمیت او ارزښت ور وښایي، لکه چې الله تعالی فرمایي:(قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ).(۲۳) ترجمه: ای محمده! ووایه ایا هغه چې پوهیږي له هغو سره یو شان دي چې نه پوهیږي

مور او پلار باید خپل ماشومان او اولادونه د علم زده کړې ته وهڅوي، د قرآن کریم او دیني علومو ترڅنګ د هغو ګټورو علومو زده کړې ته هم زمینه ورته برابره کړي چې د مسلمانانو او ټولنې د پرمختګ لپاره اړین دي. رسول الله ﷺ د علم زده کړې ته ځانګړې پاملرنه کړې ده.په حدیث شریف کې راځي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ».(۲۴) ژباړه: د علم زده کړه پر هر مسلمان فرض ده.

همدارنګه رسول الله ﷺ عبدالله بن عباس رضي الله عنهما ته په دین کې د فقاهت او د علم دعاءکړې وه:«اللَّهُمَّ فَقِّهْهُ فِي الدِّينِ وَعَلِّمْهُ التَّأْوِيلَ».(۲۵)

ژباړه: اې الله! هغه ته په دین کې پوهه ورپه برخه کړه او د قرآن د تفسیر علم ورزده کړه.

دماشومانو او اولادونو روزنه یوازې د دیني علومو تر زده کړې محدوده نه ده، بلکې باید هغوی د ژوند د بېلابېلو مهارتونو په زده کړه او د مسؤلیت په منلو هم وروزل شي.

مور او پلار باید خپل ماشومان او اولادونه د کورنیو چارو په ترسره کولو کې شریک کړي، هغوی ته د مسؤلیت احساس ورکړي او د نېکو کارونو په کولو سره یې د ټولنې ګټورو وګړو په څیر تربیه کړي. په ځانګړې ډول له قرآن کریم سره د ماشومانو او اولادونو مینه پیدا کول او هغوی د قرآن کریم زده کړې او تلاوت ته هڅول ډیر اړین دي. قرآن کریم د مسلمان لپاره تر ټولو پیاوړی فکري، ایماني او اخلاقي لارښود دی چې د انسان شخصیت جوړوي. د ماشومانو داصلاح او دټولنې د اصلاح لپاره د قرآن کریم او قرآني لارښوونو زده کول ضروري دي.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي چې په تاسې کې هغه څوک غوره دی چې قرآن کریم زده کړي:«خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ».(۲۶)

ژباړه: ستاسو تر ټولو غوره هغه څوک دی چې قرآن کریم زده کړي او نورو ته یې ورزده کړي.

اولادونه باید له کوچنیوالي څخه د قرآن کریم په تلاوت، حفظ او زده کړه عادت شي. د قرآن کریم په وسیله د ماشومانو تربیه د هغوی په زړونو کې اسلامي ارزښتونه ځای پر ځای کوي او داسې ایماني ځواک ورپه برخه کوي چې د ناسمو افکارو او ناوړه

---

[۲۳] -الزمر:(۹)

[۲۴] - سنن ابن ماجه (۱/ ۸۱)، مسند أبي حنيفة رواية أبي نعيم (ص: ٢٤)، شرح السنة للبغوي (۱/ ۲۹۰)

[۲۵] - مسند أحمد مخرجا (٤/ ٢٢٥)، فضائل الصحابة لأحمد بن حنبل (٢/ ٨٤٦)، مسند البزار (١١/ ٢٨٢)، وقال احمد شاكر:« إسناده صحيح»مسند أحمد ت شاكر (٣/ ٢٧٢)

[۲۶] - صحيح البخاري (٦/ ١٩٢)

اغېزو څخه يې ساتي. کله چې ماشوم له قرآن کريم سره ژوند وکړي، د هغه د اخلاقو، فکر او چلند په جوړښت کې د قرآن لارښوونې ځای نيسي او هغه د رسول الله ﷺ د اخلاقو د پيروۍ لپاره چمتو کېږي.

۵-د عصري ټکنالوژۍ او ټولنيزو رسنيو له تباه کوونکو خطراتو څخه د ماشومانو ساتنه ډيره ضروري ده.

زمونږ په اوسني عصر کې د ماشومانو د سالمې تربيې په مخ کې يوه مهمه ستونزه د موبايلونو، انټرنېټ، ټولنيزو رسنيو او ناسمو پروګرامونو بېحده زيات استعمال دی. ډېری ماشومان د مور او پلار له ځارنې پرته ساعتونه په موبايلونو کې تېروي، داسې ويډيوګانې او پروګرامونه ګوري، چې د هغوی پر عقيده، اخلاقو، حياء او فکر منفي اغېز کوي. الله تعالی فرمايي:(إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا).(۲۷)ترجمه: بې له شکه چې غوږ، سترګه او زړه هر يو پوښتل کيدونکی دی.

ماشومان بايد د مبائلونو، انټرنيټ او ټولنيزو رسنيو څخه لری وساتل شي او د مبائلونو د ناوړه او فحش محتوياتو څخه وساتل شي. او ماشومانو ته د قرآن کريم، اسلامي زده کړو، مطالعې او ګټورو فعاليتونو عادت ورکړل شي. د هغوی لپاره د کورنۍ له غړو سره د خبرو، لوبو او سالم تفريح وخت ځانګړی شي. نو د ماشومانو د ليدلو، اوربدلو او فکري روزنې مسؤوليت هم د مور او پلار پر غاړه دی.

٦-ماشومان او اولادونه خپلو تيروتنو ته په حکمت او د خبرو اترو له لارې متوجه کړل شي.

د ماشومانو د تېروتنو د اصلاح کولو طريقه د تربيې د بريالیتوب يوه مهمه نښه ده. رسول الله ﷺ د تېروتنو د اصلاح لپاره يو ځانګړی منهج درلود، چې پر ارامو خبرو، حکمت، دليل او قناعت ولاړ و. د دې يوه روښانه بېلګه هغه ځوان دی چې رسول الله ﷺ ته راغی او د زنا کولو اجازه يې تري وغوښته. رسول الله ﷺ هغه ته په قهر نه شو او له هغه سره يې په سختۍ چلند ونه کړ، بلکې په ارامۍ يې ورسره خبرې پيل کړې او ورته ويې فرمايل:« ادْنُهْ، فَدَنَا مِنْهُ قَرِيبًا» قَالَ: فَجَلَسَ قَالَ:« أَتُحِبُّهُ لِأُمِّكَ؟ » قَالَ: لَا. وَاللهِ جَعَلَنِي اللهُ فِدَاءَكَ. قَالَ: " وَلَا النَّاسُ يُحِبُّونَهُ لِأُمَّهَاتِهِمْ ".« فَلَمْ يَكُنْ بَعْدُ ذَلِكَ الْفَتَى يَلْتَفِتُ إِلَى شَيْءٍ».(۲۸)

ژباړه: رانږدې شه! نو هغه ځوان نبي عليه السلام ته ور نږدې شو. نبي عليه السلام هغه ځوان ته وويل: ايا ته زنا د خپلې مور لپاره خوښوې؟ ځوان وويل: نه، په الله قسم! الله تعالی ما له تا څخه فداء کړي ای د الله رسوله . رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: خلک هم دا د خپلو ميندو لپاره نه خوښوي. بيا يې ورته د لور، خور، ترور او خاله په اړه هم ورته پوښتنې وکړې او ځوان د رسول الله صلی الله عليه وسلم د هر سوال په ځواب کې ويل: نه، قسم په الله ! چې زه دا کار د خپلې لور، خور، ترور او خاله لپاره نه خوښوم او رسول الله صلی الله به د هغه د ځواب په پای کې ورته ويل: دا کار خلک هم د لور،خور ، ترور او خاله لپاره نه خوښوي.بيا رسول الله ﷺ د هغه لپاره دعا وکړه او هغه ته يې د زړه پاکوالي او د عفت غوښتنه وکړه . بيا هغه ځوان ددې څخه وروسته هيڅ شی ته التفات نه کولو.

مونږ له دې نبوي چلند څخه دا درس اخلو چې:

- د اولادونو د تېروتنو د اصلاح پر مهال بايد غوسه کنټرول کړو.
- بايد د ماشومانو د تېروتنو تر شا رواني او فکري لاملونه معلوم کړو.

۲۷-الإسراء:(۳٦)

۲۸- مسند أحمد ط الرسالة(۳٦ /٥٤٥)

- له هغوی سره په ارامه او منطقي توګه خبرې وکړو.
- د سم او ناسم ترمنځ توپیر په دلیل او حکمت ورته څرګند کړو.
- د ماشومانو د ښو بدلونونو او پرمختګونو ستاینه وکړو، څو پر ځان باور یې پیاوړی شي.

۷-د ماشومانو د ملګرو او ملګرتیاوو څارنه کول.

د ماشومانو په تربیه کې د هغوی د ملګرو او ناستې ولاړې څارنه هم مهمه ده.

ماشوم چې له چا سره ناسته ولاړه کوي، د هغوی خبرې، اخلاق او عادتونه پرې اغېز کوي.رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «الرَّجُلُ عَلَى دِينِ خَلِيلِهِ، فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ مَنْ يُخَالِلُ».(۲۹)

ژباړه: انسان د خپل دوست پر دین او طریقه وي، نو هر یو دې وګوري چې له چا سره دوستي کوي.

له همدې امله مور او پلار باید پوه شي چې اولادونه یې له چا سره ناسته ولاړه کوي، کومې خبرې اوري، کومې لوبې کوي او کومې رسنۍ ګوري. د ښو ملګرو ملګرتیا ورته اسانه کړي او له بدو ملګرو څخه یې په حکمت او مهربانۍ منع کړي.

۸-د ماشومانو په تربیه کې د غفلت ناوړه پایلې.

که مور او پلار د اولادونو تربیې ته پاملرنه ونه کړي، نو لاندې ستونزې رامنځته کېدای شي:

۱. د ديني ارزښتونو کمزوري کېدل.

۲. د لمانځه او عباداتو په اړه بې‌پروایي.

۳. په دروغو، غلا او بدو اخلاقو اخته کیدل.

٤. له بدو ملګرو سره ملګرتیا.

٥. د مور او پلار نافرماني.

٦. د نشه‌یي توکو او نورو ناوړه کړنو په لور تمایل.

۷. د کورنۍ او ټولنې د نظم او اخلاقو خرابېدل.

۸. د اولادونو په شخصیت کې د بې‌مسؤولیتۍ او بې‌هدفۍ پیدا کېدل.

نو باید هر پلار او مور د خپل اولاد د تربیې په اړه له الله تعالی څخه ووېرېږي او خپل مسؤولیت په سمه توګه ادا کړي.

---

[۲۹] - سنن أبي داود ت الأرنؤوط (۷/ ۲۰٤)

اقول قولي هذا ، استغفر الله لي ولكم ولسائر المسلمين

والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته.